مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبداغفور لیوال
۲۰۲۲/۰۴/۰۳

# استازی

مکه

سپېڅلي شوه، رڼا شوه

یوه سپینه رڼا.

ستورو «سلام» وکړ

«سلام» څه مانا؟

مانا، چي سوله دي پرتاوي مکي!

استازي پل کېښود دعرش له نوره.

استازی راغی، چي د ژوند زیری پرخلکو وکړي

استازي هغه، په ژوندوني، خښېدونکي نجوني ولیدلي

چي په کوشنیو لاسو

اسمان ته ګوته نیسي

خدای ته استازی غواړي.

استازی راغی، چي انسان نه ورکه شوې عاطفه پیدا کړي

استازي غږ وکړ: مه!

«دغه ورې نجوني په کومه ګناه ووژل شوې؟»

استازی ښکلی و

استازی ستر و

استازي «اقرأ» وویل

استازي تول انسانیت ته د لوستلو سمندر وبانه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

او مکه

ښکلي شوه، رڼا شوه یوه سپینه رڼا

استازي لمر په زړه کې راوړ

او سپوږمۍ ورته په ملا نیمه شوه

استازي مینه راوړه

استازي سوله راوړه.

استازي وویل: پناه غواړم له هغي کرکې

چې د قابیل په لاس یې وینه د هابیل تویې کړه.

استازي ذکر د خورما او د غنمو په دانو پیل کړ

استازي لوړه پر زیتون یاده کړه

استازي شین فصل د ژوند وکاره

لکه مکې ته پاس دستورو سلام

استازي یوبل ته «سلام» راوړ

استازي موږ ته خوږ اسلام راوړ.

۱۳۹۴د جدي لومړی،

دمیلاد مبارکه شپه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ